اې حکیمه! دا مال شین او خوږ دی

د حکیم بن حزام رضي الله عنه نه روایت دی وایي چې: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه غوښتنه وکړه، هغه ماته (یو څه) راکړل، بیا مې غوښتنه وکړه، بیا یې راکړل، بیا یې راته وفرمایل: «اې حکیمه! دا مال شین او خوږ دی، چا چې د نفس د سخاوت له مخې واخیست برکت به ورته پکې واچول شي، او څوک چې دا په حرص سره واخلي برکت به ورته پکې وانه چول شي، او د هغه چا په څېر به وي چې خوري او نه مړېږي، او د پورته لاس خاوند (ورکوونکی) د ټیټ لاس له خاوند (غوښتونکي) څخه غوره دی» حکیم وویل: ما وویل: «اې د الله رسوله! قسم په هغه ذات چې ته یې په حقه رالېږلی یې، ستا څخه وروسته به له هېڅا څخه څه شی ونه غواړم، تر څو چې له دې دنیا لاړ شم (وفات شم)» نو همغه و چې ابو بکر رضي الله عنه به حکیم ته د صدقې ورکولو هڅه کوله، خو حکیم نه منله، بیا عمر رضي الله عنه ورته وړاندیز وکړ، له هغه یې هم ونه منله، بیا هغه ټولو مسلمانانو ته وفرمایل: «زه ورته د هغه د حق مال وړاندیز کوم چې الله تعالی ورته په غنیمت مال کې ټاکلی دی، خو هغه یې نه اخلي» نو حکیم له پېغمبر صلی الله علیه وسلم څخه وروسته له هېڅا څه ونه غوښتل تر دې چې وفات شو، الله دې پرې ورحمېږي.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

حکیم بن حزام رضي الله عنه له پېغمبر صلی الله علیه وسلم څخه د یو څه مال او متاع غوښتنه وکړه، نو پېغمبر صلی الله علیه وسلم ورته ورکړ، بیا یې غوښتنه وکړه، بیا یې ورکړه، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: اې حکیمه! دا مال خوښ او مطلوب دی، چا ته چې پرته له سوال کولو ورکړل شو او له زار پرته یې په مړه خوا واخیست، برکت به ورته پکې واچول شي او چا چې د حرص او تمې له مخې واخیست برکت به ورته پکې وا نه چول شي او د هغه چا په څېر به وي چې خوري او نه مړېږي، او پورته لاس چې ورکړه کوي د الله تعالی په نزد له ښکته لاس (سوال کوونکي) څخه غوره دی، حکیم وویل: ما وویل: اې د الله رسوله! قسم په هغه ذات چې ته یې په حقه رالېږلی یې، ستا څخه وروسته به له هېڅا د مال غوښتنه ونه کړم تر څو چې له دنیا څخه لاړ شم. نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم خلیفه ابو بکر رضي الله عنه به حکیم ته بلنه ورکوله ترڅو ورسره مرسته وکړي، خو هغه به یې له اخیستلو انکار کاوه، بیا امیر المؤمنین؛ عمر رضي الله عنه هم ورته وړاندیز وکړ چې یو څه ورکړي، خو هغه یې له اخیستلو انکار وکړ، عمر -رضي الله عنه- وویل: اې د مسلمانانو ټولیه! زه هغه ته هغه برخه ورکوم چې الله ورته د غنیمت (فیء) له مال څخه ټاکلې ده، (هغه مال) چې مسلمانانو له کافرانو پرته له جګړې او جهاد څخه ترلاسه کېږي، خو هغه یې له اخیستلو انکار کوي، نو حکیم د مرګ تر ورځې پورې له هېڅا څخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته د څه شي غوښتنه ونه کړه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3703